مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۱۱/۱۹

# کوړ – سم

زما په تنــده کی را تول غم، لکه خور چی شو
چی دا نړی شوه ټوله ډوبه، تر غړی په غم کی

کوم یو منصف به وکړی حکم، د انصاف په تله
ګناهګار زه یمه، که وخت، که ده ګناه صنم کی؟

چی کوی ډز، یا پری نا حقه، د مرګ حکم لیک شی
نو څه توپیــر دی په ټوپک او د قاضــی قلم کی؟

لوظنـامې چی هره ورځ پرله پســې ماتیږی
نو فرق به څه وی د دوحې او د کعبې قسم کی؟

څو به ګونګي، څو به کاڼه، څو به ړانده یو ربه !
څو به تمیز نه شــو کولی په ړلی – شبنم کی؟

له پردو مه کوې ګیلې، خپل کلیوال ته زیرشي
چی درته و لګیــږی پته، په کاږه او ســم کی.

نومبر/۱۸/۲۰۲۰
ایجکس – تورنتو - کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ